مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: ارون آنند
ژباړن: سراج الحق ببرک زی خُدران

۲۰۲۲/۰۴/۰۱

د ډیورنډ لعنتي کرښه

څنګه د افغانستان او پاکستان ترمنځ پوله د خیانت، فریب او دوکه بازي تاریخ کې ریښه لري !

,, د سر مورتېمور ډیورنډ پلار جنرال هنري ماریون ډیورنډ د نارتمبرلینډ ډیوک یو نامشروع حرامي زوی و.,,

سرچینه: فیرسټپوست ویبپاڼه



د لاندې لیکنې او د ډیورنډ لعنت کتاب په اړه د ژباړن شننه او تبصره: ,, هغه کسان چې د ډیورنډ لعنتي کرښې د هوکړه لیک په اړه د انګریزي امپراتورۍ تاریخي منافقتونو، خیانتونو او دوکه بازیو په اړه نوی تازه څېړنیز مالومات، تاریخي لاسوندونه او د نولسمې پیړۍ مهمو برخلیک تاکونکو پېښېو، حالاتو او ورځو په اړه وپوهیدل غواړي، هغه دې باید د ډیورنډ لعنت، د پټان پښتون په زړه کې کښل شوې کرښه په نامه کتاب ولولي.

DURAND´S CURSE: A Line Acorss the Pathan Heart

دغه کتاب په انګریزي ژبه کې د افغانستان او پاکستان په چارو کې پخوانی ډیپلومات، کارپوه، په ایټالیا او رومانیا کې د هند سفیر، په روم کې د ملګرو ملتونو د ادارو دایمي استازی، په دې ورستیو کې په کراچۍ کې د هند جنرال قونسل او تکړه لیکوال ښاغلي راجیو ډوګرا لخوا لیکلې شوې دی. نوموړي د ډیورنډ کرښې د اصلي شخړې ستونزې په اړه یوه هر اړخیزه څېړنیزه تاریخي لیکنه په خپل کتاب کې لیکلې ده. او دا لاندې بله ارزښتمنده لیکنه په نامه دې

Durand Line: How Afghanistan-Pakistan border is rootet in a tale of treachery and deception

د همدې ډیورنډ لعنت، د پټان په زړه کې کښل شوې کرښې کتاب د منځپانګې په اړه ښاغلي آنند لخوا لیکلې شوې ده.

ښاغلی راجیو ډوګرا د یوې اوږدې مودې انتظار ورسته په دې بریالی شوې، څو د یو کارتوګرافیکي جوړښت سره د ډیورنډ په اړه یوه بیوګرافي یا ژوندلیک ولیکي. هر هیوادپال افغان ته د دې مهم کتاب ولوستل اړین بولم. دغه لاندې څېرنیزه مهمه لیکنه له انګریزي ژبې څخه جرمني ژبې ته او له جرمني څخه پښتو ژبې ته ژباړلې شوې ده. ځکه د همدې لعنتي ډیورنډ کرښې او خیانتونو له امله په افغانستان کې تل د وینو ډک لښتي بهیدلې دي. سره اورنه یو په بل پسې بل شوې دي. د نړۍ ستر ښکېلاکګر زبرځواکونه د افغانستان اشغال په موخه راغلې دي. نه یوازې زمونږ جیو ستراتیجیک جغرافیایي موقعیت زمونږ د له منځه وړلو لامل ګرځیدلې دی، بلکې د برغلګرو لښکرې د هند شتمنیو د لوټولو په لار کې افغانستان تر پښو لاندې هم کړي دی.

د افغانستان د خپلواکې په ټولو جګړو کې د افغان او انګلیس درې خونړۍ او ظالمانه جګړې د پامو وړ دي. د برتانوي نړیوالي امپراتورۍ له لورې په یوه وړه کتابچه کې د لوی افغانستان ویشل د نولسمې پیړۍ یو تر ټولو ستر کولونیالیستي تاریخ جنایت او نړیواله مهمه پېښه ګڼل کیږي. دا خپلسري یو اړخیزه او ظالمانه کرښه لومړي د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مورتېمو ډيورنډ لخوا په يوه ټوټه کاغذ کي کښلي شوي وه. د دي لعنتي کرښې له امله تر اوسه د افغانانو ويني تويېږي او افغانستان يې د نړيوالو استعماري زبرځواکونو د سياسي لوبو ډګر او ښکار ګرځولي دی او افغانان سخت ترينه ځوريدلي او کړيدلي دي.
په ډيره خواشينی سره او له بده مرغه دا خونړی تاريخ او دا خونړی ظالمانه ناروا کيسه تر اوسه هيڅ چا په سمه توګه نه ده راسپړلي او په انګرېزي ژبه کي نه ده ليکلي. د ډيورنډ زړه بوګونکي معاملي داستان له افغانانو او نړيوالو څخه پټ ساتلي شوی پاتي وو. خو بالاخره د ښاغلي ډوګرا لخوا د پښتنو افغانانو دغه غمجنه کيسه په يوه ښېسياري لوړ ادبي، سياسي او څېړنيزه ستايل کي په انګريزي ژبه کي ليکلي شوي ده.
د ډيورنډ لعنت په نامه کتاب د ژورو پوهنيزو څېړنو، شننو او پلتنو په پايله کي ليکلي شوي دی. دغي تاريخي علمي کتاب د افغانانو تر خاورو ابرو لاندی د خونړی پټ ساتلي شوي تاريخ تاريخي رازونه او دسيسي رابرسره کړي دي. په دغه کتاب کي د اوږدو تاريخي، سياسي او جغرافيايي اثار او په زړه پورې دقيق توضيحات او تاريخي مهم لاسوندونه او مالومات را ټول شوي دي. دغه جالب او په زړه پورې کتاب د لومړی ځل لپاره په جزئياتو کي د افغانانو او لوی افغانستان په وړاندې په خارور کي د ځښ کړل شوي داستان، کولونيالېستي دسيسې، دوکې، ټګۍ برګۍ او فريبونو کيسې په انګليسي ژبه کي نړيوالو ته بيانوي.
د افغانستان دريمه برخه خاوره لومړي برتانوي امپراتورۍ او بيا اوس پاکستاني پوځي اشتبليشمنټ يا پنجابي پوځيانو غصب کړي، اشغال کړي او نيولي دي. په اصل کي دغه سيمي د لوی افغانستان تاريخي نه بيلدونکي سيمي دي او دا سيمي افغانانو پورې اړه لري. خو تر اوسه دغه ويشلي شوي لويه پښتنه قبايلي کورنۍ يا افغان ملت د دې ناروا ويش د منلو څخه په جدي توګه انکار کړي او کوي. پښتانه افغانان د دې ناروا ويش په وړاندې د يوې پېړۍ راهيسي مبارزه کوي او په وړاندې خونړۍ جګړې پيل شوي دي. تر څو دغه لعنتي استعماري خونړي کرښه رنګه کړي. دا کرغيړنه کرښه په يوه ټوټه کاغذ کي او د ښګو په اوږدو کي راکښل شوي ده.
ښاغلي راجيو ډوګرا د افغانستان د بدبختيو او بد مرغيو په اړه په دې زړه راښکونکي، زړه څېرې کونکي داستاني علمي ليکنه کي د دې لعنتی کرښې په اړه د جګړو، ناورينونو او بې عدالتيو په وړاندې د افغانانو قهر او غوسه د قلم په ژبه کي په زغرده بيا راژوندي کړي ده. دا د هند د نيمې وچې د انګرېزي استعماري تاريخ يوه خورا زړه بوګنونکي خونړۍ کيسه هم ده، چې د همدې ناموتو هندي ليکوال لخوا ليکلي شوي ده.
د ډيورنډ هوکړه ليک په ورځ به د انګريزانو د بخت ستوری اسمان ته ختلي وي، خپله ډيورنډ به هم اووم اسمان ته ختلي وي، که نه د اروپا تر ټولو څواکمن ډيپلومات ډيورنډ دا تمه نه درلوده، چې د افغانستان اوسپنيزه امير به دومره زر په ګوندو شي او په اساني سره ور رنګ شي. چا دا فکر کولو، د يوې پياوړي اوسپنيزه ارادې خاوند امير عبدالرحمن خان چې افغانستان يې پراخ او متحد کړ، په يوه هوسي، هوايي او مکرجنه خبره او استعماري کولونياليستي فکر سره د افغانستان د خاورې ستره برخه معزې په يوه سر خوځولو کي انګريزانو ته ورکړي. !
خو يوه تريخ حقيقت په ځلونو دا ثابته کړي، که څه هم افغانان د خپلې خاورې په دفاع کي تل ننګ او غيرت کړي دی، خو افغانان ډير خوشباوره خلک هم دي، د همدې ساده ګي او خوشباورۍ له وجهې بهرنيانو په وار وار تېر ايستلي دي او يرغلګرو خپله ګټه ترينه پورته کړي ده.
پوښتنه دا ده، چې ولې دغه بدبخته هيواد تل د امپراتوريو د شطرنج د لوبو ډګر ګرځيدلي دی. هغه څه شی دي، چې دوی دلته راکښوي، څو دوی دلته خپلې لوبې ولوبوي. د ډيورنډ کرښه يوازې يو لعنت نه دی، بلکې دې لعنتي کرښې د پاکستان ځمکنۍ هويت هم له ګوابښ سره مخامخ کړي او د افغانستان په خاوره کي پوله تر پوښتنې لاندې راوستلې، ترڅو چې د ټولو پښتنو افغانانو د لوی افغانستان ايډيا تحقق نه وي موندلې.
د ډيورنډ هوکړه ليک به خامخا د ډيورنډ د تعجب او حيرانتيا وړ ګرځيدلي وي، کله چې امير عبدالرحمن په دې لاسوند باندې لاسليک وکړ. سړی استعماري واکمنانو ته په ّځانګړي توګه د انګرېزانو له کرکې ډک استعماري سياستونو ته حيران شي. د دوی ظلم او بربريت هيڅ حد نه درلود، انګرېزي رسنيو د دوی له چټلو سياستونو څخه ملاتړ کړي او ټوله نړۍ د خورا پياوړي ّواکمنې امپراتورۍ په وړاندې بې واکه وه. انګريزانو په سيستماتيک ډول تر اوسه د ډيورنډ هوکړه ليک پټ ساتلي وه. هيڅوک نه يوهيدل، چې څنګه ډيورنډ د افغان امير سره داسي يو مهم سند لاسليک کړي دی. د دې هوکړه ليک په اړه په هيڅ يوه افغان خبرې رسنيي کي راپورونه نه دي ورکړل شوي او نه د هغمهال ليکني شتون لري. له دې امله مورږ مجبور کيږو، څو مورږ د انګريزي کولونياليستي ليکوالو په ليکنو او نسخو باندې ډډه ولګوو. دا ډول ليکني ځښتې ډيرې دي. خو د ښکيلاک په چوپړ کي ليکوالو د خپل نړيوال استعماري سيستم ستاينه په کي کړي ده. دا يوه طبيعی خبره ده، چې دا د نيواګرو ليکوالو يو امتياز دی، دوی خپل تاريخي کيسې د خپلو خوښيو او خوشاليو لپاره په ښه بڼه کي د خپل استعمار په ګټه ليکي او بيانوي. په ډير ندرت سره د امپراتورۍ څواکونو يو تاريخپوه به وموندل شي، چې هغه د خپلو نيواګرو ناوړه عملونه افشا کړي وي او تيروتنې ليکي وي، حتی دوی د ډيورنډ بدرنګه معامله او جنايت په يوه ښه انساني بڼه کي بيانوي. انګرېزي ليکوال په دې برخه کي مستثنا نه دي. انګرېزی ليکوال د برتانوي ويکتوريانو دورې څخه تر اوسه پورې په ټوله نړۍ کي د برتانوي امپراتورۍ برغليزه پرمختګونه د ازادۍ او د لويديځ تمدن په خپرولو کي د يو لوي خدمت او شهکاري په توګه ګڼي او ليکي. دا انګزيزان وو، چې د درېمې نړۍ ولسونو ته نوی تهذيب او تمدن ورزده کړو.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د افغانستان امیر که څه هم په دې باور وه، چې دغه معامله یوه موقتي معامله ده. هغه په دې نه پوهیدو، چې دلته به د برتانوي هند ناجاېزه اولاد، د سرطان دانه او ترهګرپال دولت پاکستان جوړیږي. هوکړه لیک په داسي ژبه کې لیکلې شوې دی، چې امیر پرې نه پوهیدو. امیر د همدې هوکړه لیک له لارې د افغانستان سویلي برخه برتانوي امپراتورۍ ته په ډالۍ کې ورکړه. د افغانستان په لرې پرتو سیمو یا قبایلي نړۍ کې سمدستي احتجاجونه او غبرګونونه ونه ښودل شول، ځکه هغمهال د داسو پټو معاملو خبرونه د جګو غرونو او درو له لارې په ډیره ارامۍ سره سفر کولو.

د ډیورنډ لعنت د هر پټان په زړه کې یوه سره کرښه کتاب د روپا مطبعې لخوا په 240 پاڼو کې چاپ او خپور شوې دی. دا کتاب د تاریخ دفن کړل شوې ارشیفونو څخه ډیر په زړه پورې اسناد، تشریحات او توضیحات لري.

ډوګرا په خپله وایي، چې د ډیورنډ لعنت کتاب د هغه لپاره د موندلو او کشفولو یو لوی سفر و. هغه وایي، چې کتاب یې ,, په نړۍ کې لومړنی کتاب دی، چې دا ډول رازونه او اسرار افشا کوي,,. د ډیورنډ کرښه یوه تحمیلي مصنوعي کرښه وه. هغه وایي,, دا هیڅکله د نړیوالي منلي شوي پولې په مانا نه وه، لکه څنګه چې ما په خپل کتاب کې ښودلي او ثابته کړي ده. افغانانو دا کرښه هیڅکله نه ده منلې او هر افغان حکومت دا کرښه رد کړې. د افغانستان خاوره باید له اباسینه پیل شي، دا د افغانستان او هندوستان ترمنځ یوه طبیعي جغرافیه ده، ځکه کولتور، ژبه، ټولنیز دودونه او حتی د سیند د لویدیځې غاړې ولسونو ډې اېن اې او د اباسین د بلې غاړې ولسونو سره توپیر لري.

زه ژباړن د یوه افغان په توګه ښاغلي لیکوال ډوګرا ته د زړه له تله درنښت کوم او منندویي کوم او دا خبره اوسنیو تور مخې لونګمارو اشغالګرو ته وریادوم، چې له ستر سکندره تر چنګېزه، د مغلو تر انګرېزانو، د روسانو تر امریکایانو او حتی د منافق پاکستان په ځیر یو ترهګرپال دولت د اسلام په تفاب کې، لنډه دا چې هر ستر زبرځواک د افغانستان د فتح کولو او نیولو هڅې کړي دي. خو افغانانو د یرغلګر دښمن په وړاندې له ماتیدو او سر ټیټولو څخه ډډه کړي ده. افغانان سخت جنګیږي او هیڅکله نه ماتیږي. د مسیحت څخه څلور پیړۍ مخکې د افغانستان لومړني یرغلګر لوی سکندر ویلي و.، خدای دي د کوبرا مار له زهرو، د پرانګ له غاښونو او د افغانانو له غچ یا بدل اخیستلو څخه وساته. دا ځلي وار د پنجابي یرغلګرو پوځیانو دی.

د ډیورنډ کرښه، څنګه د افغانستان او پاکستان ترمنځ پوله د خیانت، فریب او دوکه بازي تاریخ کې ریښه لري !

د ډیورنډ کرښه د دې یادونه کوي، چې څنګه انګریزانو له افغانانو سره خیانت وکړ او د دوی ترمنځ یې یوه مصنوعي پوله یا کرښه وکښله، چې مشروعیت یې تر پوښتنې لاندې دی.

د پاکستان او افغانستان تر منځ د پولې په اوږدو کې ورستۍ نښتې ښایي په ټپه درېدلې وي، خو د دواړو هیوادونو تر منځ دا اوږده شخړه به دوام وکړي او دا نښتې به بیا پیل شي. دلیل یې دا دی، چې د ډیورنډ کرښې په نوم پیژندل شوي 1600 میله کرښه کښل یا سرحد جوړول د خیانتونو او فریبکاریو په پایله کې رامنځته شوي ده.

له همدې امله اکثریت افغانان دا کرښه نه مني.

په ریښتیني مانا سره د ډیورنډ کرښه د دې یادونه کوي، چې څنګه انګرېزانو له افغانانو سره خیانت وکړ او یوه مصنوعي پوله یې جوړه کړه، چې مشروعیت یې تر پوښتنې لاندې دی.

تاریخي شواهیدو ته په کتو سره پاکستان په دې برخه کې خورا کمزوی موقف لري.

د ډیورنډ کرښه د اوسني افغانستان له لسو ولایتونو څخه تیریږي. په پاکستان دا کرښه د خیبر پښتونخوا یا (د شمال لویدیځ سرحدي صوبې په نام هم یادیږي). د فدرالي اداري تر کنټرول لاندې قبایلي سیمې (فاټا) او د بلوچستان څخه تېریږي. دا سیمې د الحاق لپاره په پام کې نیولي شوې وې یا تر غور لاندې وې.

په 1892 کال کې د نوامبر په دولسمه نېټه د ډیورنډ کرښې تړون د برتانوي ډیپلومات مورتیمور ډیورنډ او د افغانستان د هغه وخت امیر یا پاچا عبدالرحمن تر منځ لاسلیک شو. دا تړون د انګرېزانو لخوا د روسیې او هند ترمنځ د بفرسټیټ زون یا حایلي سیمې رامنځته کولو لپاره هڅول شوي و. دا تړون د برتانوي امپراتورۍ په شاهي تاج کې یو ګرانبیه زیور یا الماس و.

انګرېزان د روسیې د پراختیایي پلانونو په اړه شکمن ول. انګرېزانو ویره درلوده، چې کیدای شي د انګریزانو څخه د هند د نیولو لپاره برید وکړي او احتمالاً دا کار به د ځمکې له لارې ترسره کړي.

د خلکو په خوله کې د دواړو سترو امپراتوریو ترمنځ شخړه د ,, لوی لوبې ,, The Gerat Game په نامه مشهوره شوې ده. دا جمله د لومړۍ ځل لپاره د افغانستان په تړاو د برتانیې د استخباراتو یوه افسر ارتور کونولي په 1840 کال کې جګړن هنري رالینسن ته په یوه لیک کې وکاروله. هغه په ورستي ځل په کندهار کې د پولیټکل ایجنټ په توګه ګمارل شوي و. کونولي لیکي: ,, تاسو یوه لویه لوبه لري، ستاسو په وړاندې یوه عالي لوبه ده. خو اصلاً دا یو برتانوي خبریال او مشهور لیکوال رودیارډ کیپلینک و، چې هغه ورسته دا جمله په خپلو لیکنو کې وکاروله او یو ستایل یې ترینه جوړ کړ او هغه ولیکلي و،, زه به اوس ډیر لرې او لرې د شمال په لوري ولاړ شم او یوه لویه لوبه به وکړم یا ولوبوم.,,

د ډیورنډ تړون د افغانستان پښتانه یا پښتون ولس سره ویشي. د دې تړون په پایله کې د افغانستان څلویشت زره مربع میله خاوره، چې په کې تر نیمایي ډیر پښتانه اوسیدل د انګریزانو تر نیواک لاندې راغله. د دې هوکړه لیک

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په بدل کې د انګلستان کلنۍ مرسته له 12000 څخه تر 18000 روپيو ته لوړه شوه. دا مرسته د هغې څه په پرتله چې افغانستان له لاسه ورکړي و، خورا لږ مقدار دی.

دا تړون يا هوکړه ليک څنګه لاسليک شو؟ او ولي د خيانت او فريبکاريو بوی کوي؟

خو تر ټولو د مخه لومړی مورټيمور ډيورنډ ته يوه کتنه بايد وشي.
هغه په 1850 کال کې د هند بهوپال ايالت(ننۍ د مډيا پرديش پلازمينې) ته نږدې زېږېدلی و. د هغه پلار تورن جنرال هنري مورټيمور ډيورنډ د ډوک آف نارتمبرلينډ(ژباړن: ډوک آف نارتمبرلينډ د برتانيا شاهي دولت لوړ ميراثي القابو يا لقب دی، چې دوه ځله د انګلستان په پيريج کې Peerage of England کې يو ځل د Peerage of Great Britain کې ورکړل شوي يا ډالۍ شوي دي. د هغه نامشروع حرامي زوی و.

په 1857 کال د مورټيمور ډيورنډ مېندواره مور انيي، د هندوستان د خپلواکۍ جګړې په بهير کې د اندور (په ننۍ مډيا پرديش کې يو ښارګوتی) څخه د ټبښتي په حال کې د يوه اوږدې سفر په ترڅ کې مړه شوه.
خپله تورنجنرال ډيورنډ د ۱۸۵۷ کال د جګړې پر مهال د خپلو وحشتونو او جنايتونو له امله بد نام شو. هغه د برتانوي پوځي سرتيرو د يو ډلې مشري کوله، هغه د هندیانو کلي وسوځول او هندیان يې په وحشيانه او ظالمانه توګه وژل، دا په داسي حال کې چې برتانوي سرتيري د پاڅونوالو يا انقلابيانو سره په جګړه کې بوخت ول.
مورټيمور ډيورنډ د ښوونځی او زده کړو لپاره سويس ته لاړ او په Lincon`s Inn کې د شاملیدو لپاره يې (ژباړن: دا په انګليستان کې د هغمهال د نامتو حقوقي وکيلانو يوه ټولنه وه) مطالعه کوله يا چمتووالي نيولو.
په 1873 کال کې هغه د هند ملکي عامه خدماتو اداره کې شامل شو. څو کاله ورسته هغه د بهرنيو چارو په وزارت کې وټاکل شو. هغه د خپلو زده کړو په بهير کې فارسي ژبه هم زده کړي وه.
کله چې ډيورنډ په ۱۸۹۲ کال کې کابل ته ورسيد، د افغانستان او د هغه د ګاونډی هيواد روسيې ترمنځ کړکيچ مخ په زياتيدو و. د هغه د ماموريت دنده دا وه، څو دا تاوتريخوالی کم کړي او برتانوي ګټو ساتنه وکړي، تر څو د انګليس \ روسېې ترمنځ د جګړې مخه ونيول شي. هغه اوه اوونۍ په کابل کې پاتې شو. هغه په دې موده کې يې په ډيرو شکمنو حالاتو کې د ډيورنډ تړون لاسليک کړ.
مورټيمور ډيورنډ سره د برتانوي استخباراتو د يوه لږ پيژندل شوي اجينټ په نامه دې سالټر پيين لخوا مرسته او ملاتړ کيده. د دې استخباراتي اجينټ په اړه ډيرې لږ خبرې شوی دي. په ښکاره توګه همدې وروستنۍ اجينټ سالټر پيين د ډيورنډ کربنې د هوکړه ليک په ترسره کيدو کې مهم کليدي رول لوبولي دی.
پيين د امير عبدالرحمن په دربار کې د برتانوي استخباراتو لخوا نسب شوي و. د هغه کيسه عيناً په مستقيم ډول سمدم د جاسوسۍ فلمونو ټريلر يوي بيلګې ته وره ده.
پيين په انګلستان کې زېږېدلي و، خو په شپاړلس کلنۍ کې خپل هيواد پرېښود او هندوستان ته لاړ. هغه لومړی په بمبۍ يا (اوسنۍ ممبۍ) کې مېشت يوه شرکت کې د يوه ځوان انجينر په توګه د مامور په حيث شامل شو. دا په هند کې د هغه يوازينۍ دنده وه. هغه ورسته په دواطلبانه توګه د افغانستان امير لپاره په دربار کې د کار کولو لپاره چمتو شو. ورسته له هغې کله چې يوه فرانسوي يوه ډينامو او يو لاسي څراغ د وړلو وړ يو موټور افغانستان ته وارد کړو، څو دا موټور وچلوي، خو همدغه فرانسوی سړی بيرته د امير دربار ته وراستون نه شو. ځکه هغه د امير له ډاره او غضبه ډير سخت ويريدلي و.
انګرېزانو له همدې فرصته په ګټه اخيستلو سره د امير په دربار کې پيين پيوند کړ.
په ۱۸۸۵ کال کې پيين کابل ته راغی، څو د همدې فرانسوي ځاياستی شي، هغه د افغانستان امير د خوښيو خوشالیو او فنتزيو ډکو نوی وارد کړل شويو ماشينونه وچلوي او سمبال کړي.
,, راجيو ډوګرا د پيين په اړه د Durand´s Curse کتاب کې په مفصله توګه خبرې کړي يا ليکلي دي.(113/114 د ډيورنډ لعنت کتاب مخونه)

,, پيين د اميرعبدالرحمن خان اعتبار او باور تر دې حده ترلاسه کړي و، کله چې امير غوښتل يو شخصي باوري کس د هند وايسرای ته د پيغام رسولو په موخه واستوي، هغه د يو افغان په پرتله پيين ته ترجيع ورکوله او غوره کولو.,,

ډوګرا بيا نور په همدې کتاب کې زياتوي او ليکي(په 120/121 پاڼو کې د ډيورنډ لعنت کتاب کې ليکي): سړی اټکل کولي شي او انګيرلي شي، چې د 1893 کال کې د نوامبر په دولسمه نېټه په داسي يوه برخليک ټاکونکی بدمرغه ورځ کې څه پيښ شول. په دې ورځ له امير سره په کوته کې هيڅ يو افغان تبعه سړی موجود نه و. يوازې يو هندي د سلطان محمد خان په نوم (د پاکستاني شاعر فيض احمد فيض پلار) د برتانوي پلاوي په نامه شتون درلود.
که لږ نوره په سمه او دقيقه توګه وښودل شي، سلطان محمد هم په خونه کې نه و. هغه ځان د امير ترشا په پرده کې پټ کړي و، څو د غوندې يادښتونه واخلي او وليکي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا یادښتونو کیدای شول په راتلونکی کی د یو سند یا لاسوند په توګه کاریدلي وي، چې په ریښتینې مانا کې څه پیښ شول او په څه شي باندې خبرې اتري وشوې. خو د دې یادښتونو هیڅ نښه نښانه شتونه نه لري یا هیڅ اثری او اعلایم نشته. تر ټولو په زړه پورې او جالبه خبره دا ده، چې په پیل کې په دې توافق شوي و، چې ټرون باید په فارسي ژبه کې لاسلیک شي. ځکه امیر په فارسي ژبه پوهیدو، امیر انګلیسي ژبه زده نه وه، خو ډیورنډ په دواړو ژبو ښه حاکمیت درلود. خو دا هوکړه لیک یا ټرون په انګلیسي ژبه کې لاسلیک شو.!
پوښتنه دا ده، چې که په انګلیسي ژبه لاسلیک شوې وې او امیر خو په انګلیسي ژبه نه پوهیدو، نو امیر به څنګه پوهیدلي وای، چې په ټرون کې څه لیکلي شوي دي، یا څه شی دي؟
دا یوه څرګنده خبره ده، چې پیین په لوی لاس او په بریالیتوب سره په امیر کې او په هوکړه لیک کې لاسوهنه کړي وه او دا ټرون یې پرې لاسلیک کړي دی.
مورټیمور ډیورنډ ته د پیین لخوا د دې مشاهداتو او یادښتونه په اړه مالومات په لیکلي ډول ثبت او ورکړل شوي دي.
,, ډیورنډ د پیین په اړه لیکي، هغه یو ډیر ګتور او مفید سړی دی,, دا ډیره د خندا وړ او په زړه پورې خبره ده، کله چې فکر وکړئ، چې دغه ماموریت د یوه د لندن د ښار د هګیو کوچني سودا ګر لخوا ترسره شوي دی. (د ډیورنډ لعنت کتاب پاڼه 121)
یو بل تاریخي ټرون او لاسوند، چې د ډیورنډ کرښې مشروعیت تر شک او تردید لاندې راوستلي دی او شکونه راپاروالي دي، هغه دا حقیقت رابرسیره کوي، چې دا ډول ټرون باید د انګرېزانو، افغانستان او د کلات ایالت (د اوسني بلوچستان) تر منځ دري اړخیزه ټرون باید لاسلیک شوي وای.
په 1876 کال کې انګرېزانو د کلات ریاست سره یو ټرون لاسلیک کړ، چې په هغه کې د کلات ریاست خپلواکی په رسمیت وپیژندله. د ډیورنډ په ټرون کې د سلب شوې یا بېله کړل شوي خاورې یوه برخه د کلات په ریاست پورې ترلي شوي یا اړه لري. خو د انګرېزانو لخوا په دې اړه نه د افغان امیر ته او نه د کلات دولت ته خبر ورکړل شوي دی. او دا هم په بشپړ ډول تصادفي به نه وي، چې د یوې میاشتې په موده کې لوړ پوړي برتانوي ډیپلومات ډیورنډ او یو کارمند سالټر پیین دواړو ته د انګلستان یا د بریتانې امپراتورۍ تر ټولو لوړ بریتیش ملکي اعزازونه یا مډالونه ورکړل شول. د "Knighthood Commander of Order oft the Star of Indian (KCSI)
ولې د امیر په دربار کې یو مامور ته د یوه لوړ پوړي ډیپلومات په شان داسي عزت ورکړل شو ؟ او دواړه ډیورنډ او پیین په دې وتوانیدل، څو د ډیورنډ ټرون لاسلیک کولو ورسته په یوه میاشت کې په دغه لیست کې ونومول شول.
ډوګرا یو ځلې بیا په لنډه او سمه توګه لیکي د ډیورنډ لعنت کتاب په (127 پاڼه کې لیکي)
,, ډیورنډ ... اوه اوونۍ په افغانستان کې تیرې کړې، هغه زیاتره وخت د امیر نیولو او ځپلو لپاره د یو مناسب فرصت په انتظار کې تېر کړ، کله چې امیر له مخې لیرې کړل شوې وای، د نقشې جوړول یو عادی او معمولی کار و. د ډیورنډ کرښه سمدستی یو نا څاپه یوه کرښه ګرځیدله. کومه چې په یوه کوچنۍ نقشه کې د یوې کتابچې په اندازه کې انځور شوي وه. همدې کوچنۍ نقشې کې 1600 میله ساحه پوښلي شوي وه. مورټیمور نه وخت درلود، چې له یو چا څخه لارښوونه او مشوره وغواړي او نه هم هغه کومه مسلکی ځانګړي پوهه او مرسته درلوده، چې د دومره لوی ټرون لاسلیکولو کې ورته اړتیا وه او هغه نه تاریخي لاسوندونه یا شواهد درلودل او نه د اغیزمنو شویو سیمو له مشرانو استازو سره مشورتي خبرې اتري ترسره کړي دي. هغه ولسونه چې د کرښې په دواړو خواو کې اوسیږي، دوی ته په دې هکله هیڅ د خبرو یا د پرېکړې واک نه دی ورکړل شوي. د ډیورنډ کرښې دواړو خواو کې د میشتو ولسونو څخه په دې هکله چا پوښتلي نه دي.
له همدې امله افغانان د ډیورنډ کرښه د یوه رسمي یا مشروع پولې په توګه نه شي منلي او داسي ښکاري، چې دوی د دې کرښې د نه منلو لپاره ټول اړین دلایل په لاس کې لري.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ